مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهنمل حاجي محمد نوزادي ۲۰۱۸/۰۲/۲۳

# په پښتو ژبي کي د ليکدود او ګړدود ستونزي

## (دوهمه برخه)

د روان ۲۰۱۸ کال د فيبروري په ۱۷ نيټه د افغانستان ملي تحريک ګوند په نوښت د يو شمير فرهنګپالو افغانانو لخوا د ډنمارک هيواد په Sønderborg ښار کي د مورنۍ ژبی د نړيوالي ورځي د درنښت او لمانځلو په موخه يو سيمينار په پام کي نيول سوی وو . سيمينار که څه هم د معمول سره سم تر ټاکلي وخت ډير وروسته پيل سو ، بايد ووايم چي ښه پر مخ ولاړ او د ځينو وينالو په خبرو کي و ډيرو مهمو او اړينو ته ټکيو ته پام اړول سوی وو . په سيمينار کي زما د وينا متن دادی پدې توګه تر مينه والو پوري رسوم :

زما په آند د ژبي معياري کولو ته په دوو برخو کي د پام اړولو اړتيا ليدل کيږي چي يو يې د ليکدود معيارى کول او بل يې د ګړدود . خو ددې دواړو برخو تر منځ د معيار د چارو په عملي ډګر کي لوی توپير شتون لري . که د ليکدود معياري کول د ژبپوهانو په همرغۍ او ګډ کار سره په نسبتا اسانه توګه تر سره کيدلای شي ، خو د ټول هيواد په کچه په واحده بڼه د ګړدود عملي کول که ناشونی خبره نه وی ، نو د اوږدو لسيزو او آن پيړيو يوه تاريخي پړاو ته اړتيا لري . د يادونی وړ ده چي د بيلابيلو سيمو د پرګنو تر منځ ګډی اقتصادي اړيکي ، د رسنيو او په ځانګړي توګه د ږغيزو رسنيو د شبکو پراختيا ددغي پروسې په چټکولو کي رغنده او ګټور رول لوبولای شي .

محمد معصوم هوتک د نومړي کتاب په ۳۵ مخ کي دا خبره چي معيارى ژبه کومي ژبي ته ويلای شو ، داسي انځوروي : « معياري ژبه هغه منلې شوې ژبه ده چي د يوه ژبني قلمرو په هره جغرافيايي سيمه کي د پوهيدلوړ وي . . . . . او د همدې ژبي ټول ليکلي متنونه هماغه د معيار پنامه منل شوي املا او ګرامري نورمونه پالي » .

زما په فکر په لوړ تعريف کي د ژبني **« ګړدود »** اړخ له پامه لويدلی دی چي پکار وه د منلي شوي املا او ګرامري نورمونو ( **ليکدود** ) سره « ګړدود » هم مل شوی وای . دا منم چي د معيار په کار کي واحد ليکدود تر ګړدود ډير مهم دي ، خو ددې زياتوني څخه مي موخه داده چي که په ګړدود کي د اوس لپاره د الفبايي تورو د ږغړنو او لهجو بشپړ توحيدول د ټولنيز ـ اقتصادي پړاو و لا نور پرمختګ ته پريږدو ، خو بيخي به لاس تر زني هم نه ورته کښينو . مګر په بشپړه توګه د يوه واحد ليکدود درلودل د همدې ګړي بيړنۍ اړتيا ده .

هوتک صاحب دې خبري ته ډير پر ځای اشاره کړی ده ، لکه څنګه چي ژبه د ويونکو څخه جلا او په مجرد ډول ځيړل کيدلای نه شي ، همدارنګه يې د نورو ژبو څخه جلا ځيړنه پر ځای کار ندی . دا له همدې کبله ده چي سوچه او مجرده ژبه ښايي دا مهال و نه موندل شي .

فکر کوم پر يوې ژبی باندي د نورو ژبو اغيزي تر لويه بريده د دوو لارو څخه تر سره کيږي : يو د ګاونډو سيمو د ژبو سره د اړيکو د لارى او بل په علم او تخنيک کي و برلاسه ژبو ته د اړتياوو د لاري . پښتو ژبه هم ددغه عام پرنسيپ نه استثنا کيدلای نه شی او ددغو دواړو لارو څخه اغيزمنه ده . دا هم يو واقعيت دي چي د لومړي لارى اغيز ور باندي تر دويمي زيات دی . که د دويمي لارى اغيز د يوې عيني مثبتي اړتيا له مخي تر سره کيږي خو دلومړی لارى اغيز بيا تر ډيره حده د يوې منفي بيوسی له مخي تر سره کيدونکي دی . د يوې ژبي همدغه منفي بيوسي ده چي د بلي ژبي و ژبنی يرغل ته لاره پرانيزي . په پښتو ژبه کي د فارسي او عربي ژبو څخه د ننوتو يا « دخيلو » لغاتونولاملونه دادي چي د يوې خوا پښتو تر ډيره وخته يوازي شفايي ژبه پاته وه او د خپلی وييپانګي د کمبود په پوره کولو کي يې فارسي ژبی ته اسان لاسرسی درلود . واکدارانو هم پښتانه يوازي په جنګي او دفاعي چارو ګمارل او د ليک لوست نه يې ليري ساتلي ول . د بلي خوا نه د اسلام دين د را رسيدو او د وګړو د اعتقاد په پخيدو سره د عربي لغاتو او جملو څخه ډير کار اخيستل يو ډول معنوي اعتبار او آن ثواب ګڼل کيدی .

ددې ټولو تاريخي بيوسيو سره سره ، زه پدې آند يم چي په « پښتو ټولني » کي د يو شمير پوهانو د زيار له برکته چي د « ستورو » نوم يې ګټلی دی ، پښتو ژبه اوس د نژدې يوې پيړۍ د مخه هغه بيوسه او يوازی شفايي ژبه نده ، د ليکدود په ګډون په هره برخه کي ښايسته ډير کار ورته شوی او په نسبي توګه بډايه شويده . مګر ددې د پاره



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

چي د نا اړينو پور کړو لغاتونو څخه خلاصه شی ، تر اوسه لا ډير او نه ستړي کيدونکي کار ته اړتيا لري . په همدې خاطر اړينه بولم چی و « **نيولوجيزم** » ( نوی لغات جوړونی ) ته په علمي بڼه پام واړول شي او په مټ يې د پښتو پر اوږو د پرديو پورونو پيټی سپک او منت يې کم شی .

نيولوجيزم ته کيدلای شی د دوو اړخونو څخه و کتل شي . يو داچي د علم او تخنيک د پرمختګ سره سم بايد د نوو رامنځته شوو لغاتو يا اصطلاح ګانو د پاره په پښتو ژبه کي اړوند انډول لغاتونه و لټول شی لکه د **ايميل** د پاره « **بريښناليک** » . زه پخپله د ټولو هغو نومونو او اصطلاح ګانو د پاره د پښتو لغاتونو د لټولو سره همږغی نه يم چي د علم او تخنيک په برکت بايد ژبي ور ننوځي . داسی په نړيواله کچه منل شوی اصطلاح ګاني نه يوازي داچی ژبه نه کمزورې کوي ، بلکه بډايه کوي يې . ددې خبري ترڅنګ دا هم اړينه ګڼم چي د هغو موجودو غير پښتو ( **دخيلو لغاتونو** ) او يا ( **پور شوو لغاتونو** ) د پاره يو موزون پښتو لغات و لټول شی چي د علم او تخنيک د پرمختګ جبر يې لامل ندی . دا ځکه چي پښتو ژبي يو وخت د خپلي ټيټي وييپانګي د لوړولو په موخه دا ډول لغاتونه د خپلو بيړنيو اړتياوو د پوره کولو پخاطر د مجبوری او بيوسی له مخي د نورو ژبو څخه چي لاسرسی يې ورته درلود ، پور کړي وه . دا مهال چي هغه بيوسي تر زياتي کچي له منځه تللی ده ، پکار ده پدې پوه شوو چي پردی کټ تر نيمو شپو وي ، ځکه نو بايد د هغوی انډول داسی پښتو لغاتونه د نيولوجيزم په مټ را پيدا او و کارول شي چي د نوموړي غيرپښتو لغات د پاره يو صلاحيت لرونکی ځايناستي وشي او قبوله شوی مانا يې هم په يوه په زړه پوری ږغ سره څرګنده کړای شي . د بيلګي په توګه د « **عکس العمل** » د پآره « **غبرګون** » ، د « **قيام** » د پاره « **پآڅون** »، د « **برنامې يا خط مشي** » د پاره « **تګلاره** » . ددغسی ښکليو ځايناستو لغاتونو د پيدا کولو په کار کي نيولوجيزم ډير په درد خوري . نوی ځايناستی لغات بايد موزون ږغ ولري او په ګرامر کي هم په اسانه توګه و کارول شي . داسی غيرموزون لغاتونه له د ( **جلبيو** ) د پاره « **کړې وړې خوږې** » ، د « **راډيو** » د پاره « **ږغدبلی** » ، او يا د « **رباب** » د پاره « **شرنګ سوټی** » کارول ، زه په نيولوجيزم باندي ملنډي وهل ګڼم . زه پدې آند يم چي د هر غيرپښتو لغات د پاره اړينه نده د پښتو لغات که موزون وی يا غيرموزون ، مناسب انډول وی يا نامناسب ، خو داچي پښتو ندی بايد د ځايناستی په توګه حتماً ورته و لټول شي ، او ټينګار کوم چي په دغه ډول ( کړو وړو خوږو ) باندی د پښتو خوله نه خوږه کيږي . اوسمهال د پښتو په نيولوجيزم کي تر ټولو ډير پوهاند صاحب زيار چي يو ډګري لرونکي ژبپوه دي ، کار کوي . زه باور لرم چي دی به هم زما ددغه نظر سره همږغی وي . د نوي لغات موندل يوازي د يو شمير نااړينو دخيلو او په پور اخيست شوو لغاتونو د پاره يوه بيړنی او ځنډ نه منونکې دنده ده . دا ځکه ، که موږ د پښتو د معيارولو په لور ځو ، نو ښه به دا وي چي دا ستونزه تر اړينه بريده ور سره حل شي .

د دوهمی برخي پای

نور بيا



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ